
په پنجابۍ ډمې مين!
Ketabton.com
ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د کتاب پیژندنه

---

| | |
|---|---|
| **نوم .** | **په پنجابۍ ډمې مین** |
| **لیکوال .** | **سیدادریس سادات** |
| **ډیزاین ،** | **پخپله لیکوال** |
| **د لیکوال شماره .** | **۰۷۳۱۳٦۳۲۰۱** |
| **نشرونکی .** | **کیسه ویبپاڼه** |
| **ویبسایټ،** | **www.kesa.blog** |
| **بڼه .** | **پي ډي ایف** |

**د ناول ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.**

**S A**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**دا کتاب دې هغو کسانو ته ډالۍ وي.**

**چې د خپل کور نه په بدلو بدلو بهانو ووځي،**

**او د درې څلور دقيقو ژوند لپاره خپل ټول**

**ژوند په ځان ترخوي.**

**خپلې حورې ميرمنې پرېږدي او بيرون په**

**ډمو پسې گرځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پيل**

**موبايل وشرنگېد، په شړۍ کې مې د پښو خواته لاس ورتېر کړ، له چارج نه مې وباسه.**

**په خوبلن انداز مې موبايل غوږ ته ونيو،**

**په زنگېدلي آواز مې داسې وويل:**

**بلې!**

**څوک؟**

**سلام گرانه اوس لکه چې خپله رخسار هم نه پيژنې.**

**سترگې مې وغړولې، په يو ټوپ سره له کټه راپورته شوم.**

**څه څه گرانې خنگه يې؟**

**ښه يې؟**

**مننه**

**سبيره ډير مې ياد شوی يې**

**څه وخت پاکستان ته راځې،**

**گرانې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه خو پردی مزدور يم، د تګ او راتګ وختونه مې معلوم نه وي.**

**خو خير انشالله سبا يا بل سبا ځان برابروم، درځم.**

**سمه ده، اوس زه هم دفتر ته ځم، نن ورځ په بانک کې ډيرې زياتې غونډې دي.**

**بايد چې ټولو ته ځان په وخت سره ورسوم، د خدای پامان**

**سبيره په ځان دې پام کوه..**

**ستا ځان له تاسره زما امانت دی، که څه پرې وشول.**

**وژنم دې.**

**هههههه**

**سمه ده سمه ده، ښه ورځ ولرې.**

**غسل خانې ته ولاړم، حمام مې وکړ.**

**د سهار لمونځ مې هم اداء کړ، له دُکانه مې ځانته څو دانې انډې راوغوښتې.**

**په بلچيخانه کې مې ځانته پښې کړې، يو څه شوده مې هم برابر کړل.**

**چای ته ناست وم، چې د خالدې زنګ راغی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوف دا به بیا څه وايې،**

**پورته مې کړ، سلام گرانه!**

**سبیره څنگه يې ښه يې؟**

**ښه یم، وایه؟**

**سبیره مور مې وايې چې سبیر مې ډېر زیات یاد شوی دی.**

**نن ورته ووایه چې دلته راشي، یو څه ساعت به یې هم تېر شي.**

**او له دفتري کارونو به هم یو څه دمه وکړي.**

**گوره خالدې!**

**زه تاته اوس داسې اوزگار ښکارم، چې د خلکو په کورونو به گرځم ها؟**

**زما نن ډېر زیات کار دی، او ته به داسې وکړې.**

**چې ورور ته بدې ووایې هغه بدې راولي، ماته دفتر ته زنگ راونه وهې.**

**او ها غسل خانه کې مې خیرنې جامې دي، هغه درسره ومینځه.**

**سمه ده، مگر د شپې وختي راشه، چې زه بیا یواځې په کور کې ویریږم.**

**او یو ښه زیری هم درته لرم، موبایل مې پرې قطعه کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپل چاى مې وڅښه، او د بانک پر لور روان شوم.**

**په بانک کې هلکانو دا څو ورځې ډېره لټې شروع کړې وه.**

**له ټولو وړاندې مې ټول راغونډ کړل، او د ټولو سر مې ورخلاص کړ.**

**ځکه که کار نه کيږي، نو پدې سره زموږ بانک ته هم ډېر خطر پيښيداى شي.**

**په هر حال ټول مې پوه کړل، تر دې وروسته د مديرانو غونډه وه.**

**زه هم ورغلم، د ټولو موضوع دا وه، چې په پاکستان کې د افغانستان قونسلگرۍ له بانک څخه دوه لکه ډالر په زورواکۍ نيولې دي.**

**زما دې موضوع کې داسې خاص دل چسپي نه وه، ځکه چې دا د نورو مربوط کار وو.**

**خو په اخر کې خبره دې ځاى ته ورسېده، چې بايد له موږ څخه يو نفر پاکستان ته همدا نن ولاړ شي.**

**او د هغې ځاى زورواکي ته دا اخطار ورکړي، که چيرې دوى زموږ پيسې موږ ته رانکړي.**

**نو موږ به پرې په محکمه کې عريضه وکړو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه د بيسکوټو په خوراک لګيا وم، چې ټولو زما خوا ته په زير زير راوکتل، وار خطا شوم، له لاسه مې بيسکيټ ولوېدل.**

**ټولو ته مې سر وخوراوه، مطلب چې څه کيسه ده.**

**راته کړه يې:**

**مشر فيصله وکړه، چې ته به پاکستان ته ځې.**

**ځکه چې په موږ ټولو کې له تا بغير د هيچا سره هم پاسپورټ او ويزه نشته.**

**سوچ مې وواهه، ولا چې لاړ شم، دا خو به ډير خوند وکړي.**

**له رخسار سره به هم ووينم او چکرې به هم ووهم، ومې ويل:**

**سمه ده، خو کله؟**

**وئ، همدا اوس کنه.**

**حيران شوم، بس ژر ژر مې ځان تيار کړ.**

**پاسپورټ او تذکره مې هم واخيستل، خپل بيګ مې شاته واچاوه.**

**له ادارې مې پيسې واخيستې، او د تورخم په لور رهي شوم، په ډيره خوشحالۍ کې رانه دا هم هېر شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې خالدې ته د تګ خبر ورکړم، په یو آسماني رنګه پلنکوچ کې کښېناستم، دې پلنکوچ تر تورخم پورې راورسولم.**

**په تورخم کې دروازې یا ګېټ ته نږدې هرې خواته ماشومان لویان زنانه هر ډول خلک ولاړ وو.**

**اکثرو زنانه وو تورې او شنې برقې په سر کړې وې.**

**یو پنجابي پولیس په لاس کې غټ پیپ نیولی وو او بې وسه افغانان یې پرې ډبول، ما وکتل، چې مخکې ځای کې یې یو سپین ږیری هم دوه درې پیپه کش کړ.**

**هر کله چې یې زه ولیدم، چې یو افغان وم.**

**او شو شا مې جوړه وه، پتلون او ټایې مې کړې وه، تورې چشمې مې په سترګو وې.**

**زور یې ورکړ، دوی دا هم برداشت کولای نشول، چې څنګه یو افغان پښتون په دغه لار کې داسې په عزت سره تیرېږي.**

**غوښتل یې ما هم په پیپ ووهي، مګر ما یې پیپ ونیوه، سترګې مې پرې رابرګې کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولې وروره انسانان درته نه ښکارۀ، يا د عزت نه ډک ژوند مو راباندې پيرزو ندی؟**

**افغانانو چې زه وليدم، ټول ورته په لعنت شؤ.**

**سړی يې راونيوه، مگر هوښيار وو، ځان يې چاته په لاس ورنکړ او په لږ وخت کې يې ځان له رش څخه وباسه.**

**يو څه شيبه وروسته له تورخم څخه راووتم او په ټوډي موټر کې د پيښور پر لور رهي شوم.**

**ښه وو، په لاره کې يو څه باران هم وشو.**

**تر پيښوره راورسېدم، له پيښور څخه مې ځان د جي ټي روډ هډې ته ورساوه.**

**له کوم ځای څخه چې لاهور ته سروس او غټ موټرونه تلل، ما هم پکې ټيکټ واخيست.**

**يو څه غوښه چکني او يوه وړه مرنډا مې هم راواخيسته.**

**په لاره کې مې له منظرو ډير خوند واخسته، شپه هم په رانږدې کېدو وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غوښې ټول بوټي مې په چکني کې واچول، بیرته مې ترې یو یو بوټی راپورته کاوه.**

**او لواړ مې تیراوه، تر یو څه مزل وروسته هغه سړک ته راورسېدم.**

**کوم ځای کې چې د اسلام اباد او پنډۍ لارې سره جلا شوي دي.**

**بس همدلته له موټره راښکته شوم، رخسار ته مې زنګ وواهه.**

**سلام رخسار**

**څنګه یې ښه یې؟**

**وعلیکم سلام څنګه یې سبیره دا څنګه دې د کار په پای کې رایاده شوم.**

**ومې ویل:**

**ای هی ګرانې!**

**زما خو یوه لحظه هم له یاده نه وځې.**

**نن ورځ دې په زړه لاس کیده، یو حیرانوونکی خبر درته لرم.**

**وایه کنه**

**څه خبره ده.**

**ته خبره یې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه اسلام اباد ته راغلی یم،**

**څه څه ته ریښتیا وایې؟**

**هیڅ باور نشم کولای،**

**هو ریښتیا وایم، ما ویل چې یو دمې درباندې زیری وکړم.**

**ته داسې وکړه، چې امپیریل مارکیټ ته راشه، زه پکې یوه خونه په کرایه نیسم.**

**نه سبیره تا راباندې ډیر لوی زیری کړی دی.**

**نن به درته زه یوځای وخایم، ته هلته راشه.**

**نور مې له امپیریل مارکټ نه زړه موړ دی، هسې نه چې هلته راباندې څوک شکي شي؟**

**سمه ده، دا بل ځای څنګه ځای دی؟**

**دا ځای که دې ولید، له خوشحالۍ نه شاید ځان قابو نشې کړای.**

**خا سمه ده، نو!**

**په واټساپ یې نقشه راولیګه، چې زه یې موټروان ته وخایم.**

**سمه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موبايل يې قطعه کړ.**

**څه شيبه وروسته يې لوکيشن راوليګه، يو موټړوان ته مې وخوده.**

**په ماته ګوډه اردو مې ورته وويل:**

**انکل ايس جګا کيدر هی؟ هم ايس جګه پر جا رها هی.**

**مشر سړي لومړی نقشه وليده، بيا يې ماته لاندې او پورته وکتل.**

**تندی يې تريو کړ، ويې ويل:**

**پښتون يې؟**

**حيران شوم، ومې ويل:**

**هو**

**وراره د ځوی په رقم مې يې، د نصيحت په ډول درته وايم.**

**له داسې ځايونو ډير ډير ځان ساته، ځکه دا ښه ځايونه نه دي.**

**ورسره کښناستم، ډير نور نصيحتونه يې هم وکړل، خو ما ورته غوږ ونه نيوه.**

**زما خيال په بله دنيا کې وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر کله چې له موټر څخه ښکته شوم، ژر ژر مې پيسې ټيکسيوان ته ورکړې.**

**په جيب کې مې غنګ غنګ وشو، لاس مې جيب ته ورتېر کړ، راومې باسه!**

**ګورم د خالدې ورور وو، موبايل مې پرې بند کړ.**

**بيخي مې يې د چالانېدو تنۍ په زور کيکاږله، تر څو د رخسار سره يوځای راته څوګ د زنګ مزاحمت ونکړي.**

**نور مې د هوټل پر لور منډه کړه.**

**هوټل ګــــول وو، شا وخوا ته يې داسې ښيښې او اوسپنې لګيدلې وې. تا به ويل لکه د سرو زرو چې وي.**

**هر سړی چې به راننواته، اوله لاره يې د زير زمينې څخه پورته وه.**

**لاندې ډول ډول بهرنۍ انجونې ښکاريدې، چې د خپلو بهرنيو يارانو سره ناستې وې.**

**چا به هم ګيلاسونه ورته راوړل، او چا به هم په حال کې لګيدلې موزيک ته نڅا کوله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما هاخوا ديخوا کتل، چې موبايل ته مې مسيج راغی.**

**د پتلون له جيبه مې موبايل راوباسه، رخسار ليکلې وو.**

**مخامخ پورته دريم منزل ته وګوره، ما چې وکتل ريښتيا هم هغه ليونۍ ولاړه وه.**

**خوشحاله شوم.**

**په زينو کې مې لکه د ليونيانو پسې منډه واخيسته.**

**ډير لږ وخت کې دريم منزل ته ورسېدم، هاخوا ورتاو شوم.**

**ورټوپ مې کړ، غيږ کې مې پورته کړه.**

**شونډې مې ترې ونيولې.**

**يو څه ځنډ وروسته يې ګوتې زما شونډو ته ونيولې، خندا نيولې وه ما ورته وويل:**

**همدې خندا خو دې په ځان پسې ليونی کړی يم.**

**راته کړه يې:**

**زه ټوله ستا يم، خو دلته نه دلته ټول خلک راګوري.**

**راځه خونې ته، ريښتيا هم شاوخوا چې مې وکتل، ټولو موږ ته راکتل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیرته چې مې مخ راواړاوه، رخسار خونې ته ننوتې وه.**

**زه هم پسې ورغلم، بیگ مې یوې غاړې ته وغورځاوه، شپه هم ناوخته شوې وه.**

**شا وخوا مې ښه په زیر زیر ولیدل، تر څو چا راته کومه کیمره یا بل څه ایښې نه وي.**

**له رخساره مې هم وپوښتل هغې وویل نه بیغمه اوسه، انشاالله هیڅ هم نشته،**

**ما هم خپل نیکټایې د میز پر سر کیښوده، او شرټ مې هم وباسه.**

**بوټان مې هم یوې غاړې ته کړل.**

**نور نو د خپلې هغې وحشي تندې په سړولو لگیا شوم، چې اوس او راتلونکی ټول ژوند به پرې پښیمانه یم.**

**د رخسار د سینو لونگ مې ښکل کړل، یو څه شیبه مې د آرامۍ احساس وکړ.**

**وروسته راپورته شوم، بدن مې سپک شوی وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خونې بیرون راووتم، له افغانستانه مې ځان سره یو څه ضعفران راوړي وو.**

**خدمتګارې ته مې ورکړل، تر څو یو دوه پیالې خوندور چای ترې راته جوړ کړي.**

**او دا مې هم ورته وویل:**

**چې باقي ضعفران بیا رخسار ته ورکړې، ځکه چې د رخسار د ضعفرانو چای ډیر زیات خوښیږي.**

**له جیبه مې د پنجابي فلیور والا قیلون راوباسه، دوه درې کشه مې ترې وکړل، څه خاص مزه پکې نه وه.**

**بیرته خونې ته ولاړم، چای یې راوړ.**

**د ضعفرانو چای خوند وکړ، د بیګ جیب مې خلاص کړ.**

**د انارو پلاستیک مې ترې راوباسه، د تګاب داغ شوي تور بخوني خوږو انارو د ضعفرانو د چای خوند دوه برابره کړ.**

**دا ځل هغې بیا د مینې خبرې شروع کړې.**

**زه هم لکه تازه زلمی د هغې هرې خبرې ځانته جذبولم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور بیا ځان برابراوه، چې دروازه راټک شوه،**

**زه ورغلم، چې دروازه مې خلاصه کړه له هغې خوا چا په څه ووهلم.**

**همدلته پریوتی وم.**

**پوره تر ډېر وخت وروسته مې یو وخت سترګې پرانیستې، تورتم وو.**

**وړه څلور کونجه کوټه وه، سترګې مې وموښلې بیا مې شاوخوا ولیدل هیڅ هم نه ښکارېدل.**

**لګه شیبه تېره شوه، یو څه روښنایي له لیرې ځایه راښکاره شوه.**

**زه چې یې ولیدم، چې په سد راغلی یم، نو خپل یو عسکر ته په اردو کې وویل:**

**تر څو زما خبر خلکو ته ورکړي، چې دی په سد راغلی دی.**

**هغه هلک ولاړ، دا مشر یې زما خوا ته راغی او راته کړل یې:**

**سلام خان بايې!**

**هماری سوچ یهي تا، که پټهان لوګ بهت دین پرست هی.**

**لکن نهي پټهان بهت زیاده عیاش هی، جس کو موقع نهي ملا وو شریف نهي هی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ايک پټهان شاعر کيسې خوب بولا:**

**د کعبې دننه هر سړی ولي دی،**

**کلک ايمان په ميکده کې معلوميږی.**

**ته پښتون يې؟**

**ديوال ته يې ډډه ووهله، ماشينه يې په خوا کې کېښوده.**

**هو پښتون يم، خو غيرتي پښتون يم.**

**د خپل پښتون ورور سره د مرستې لپاره راغلی يم.**

**زما نوم جمشيد دی، ما وپيژنه شايد زه تاته رب ستا د مرستې لپاره دلته پاتې کړی وم.**

**ته په يو لوی مشکل کې راګېر شوی يې، ته بايد د دوی خبره ومنې ګنې دوی به تا په ټول خاندان ټوله پښتنخوا او ټول افغانستان کې وشرموي.**

**ما فکر وواهه، ورته مې وويل:**

**په خونه کې خو هيڅ کيمره نه وه، ما وليده بيا نو څنګه زه مشکل کې اخته شم.**

**ويې خندل!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا په خونه کې څو څراغونه وو؟**

**ومې ویل:**

**څلور یا هم تر دې ډیر...**

**نه غلط شوی یې، څلور څراغونه په چت کې وو او درې په میزونو لګیدلي وو.**

**هر څراغ کې کوچنۍ کیمره لګېدلې وه.**

**د همدې خبرې سره زندان ته د عسکرو یو ډله رانںوته، زه یې له لاسه ونیوم.**

**بیرون یې وباسلم، لاسونه یې راته تړلي وو.**

**د تاڼې تاڼېدار وویل:**

**شناختي کارډ دې راکړه، ما ورته خپل پاسپورټ ورکړ.**

**پاسپورټ یې په زیر وکوت، بیا یې له ځانه سره وویل:**

**ښه ښه ته خو خاص سړی یې!**

**سمه ده، عسکرو ته یې وویل:**

**دی شاته پارک ته بوځې، د میلمنو په رقم یې قدر وکړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمشيد هم راسره وو، راته يې پټ په غوږ کې ووېل:**

**که په پارک کې څه چانس هم درته پيدا شو، پام کوه چې ونه تختيږې.**

**که وتختې هم، دوی به بيا تا ستا د ويډيو په ضريعه راوغواړي، د ماښام وخت وو خپل لمونځ مې ادا کړ.**

**دا ځای د فوځيانو د سياحت او سيل ځای وو.**

**ډيرو عسکرو خپلې ملګرې دلته راوستې وې، او د طيبعت له ښکلاوو يې خوند اخيسته،**

**د پارک شاوخوا شنې اوبه تيرې شوې وې، چې کښتۍ پکې ګرځيدلې، د اوبو نه هاغوا شنه شنه غرونه ښکاريدل!**

**ما اودس او لمونځ کړی وو، د دې ځای د ښکلاو ننداره مې کوله.**

**چې شاته مې وليدل، جمشيد راغږ کړ.**

**رازه سبيره!**

**زه هم ورپسې رغللم.**

**تاښې ته په خوشحالۍ ورننوتم، ناڅاپه مې سترګې په رخسار ولګېدلې.**

**هغې زما خواته راوليدل، د غرور خندا يې وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاته يې يو نفر ناست وو، چې تورې چشمې او سوټ يې کړی وو، ناست وو.**

**يو بنډل پيسې کلدارې رخسار ته ورکړې.**

**رخسار ماته وهم نه کتل، هغه ووتله.**

**زه هک هيران شوم، بيخي بل ډول حالت راباندې راغی.**

**داسې حالت راباندې راغی، ژړا راغله، سترگو ته مې گوتې ونيولې.**

**بيا مې جمشيد ته وويل:**

**چې ياره دې خلکو ته وايه چې ما زندان ته ننباسي او ښه سم وهل راکړي.**

**بيا مې خوشې کړي، تاښې دار پښتون وو راته کړل يې:**

**نه خانه!**

**ته دومره ساده وې، چې په پنجابۍ ډمې مين شوې.**

**هههههه**

**اوس نو ته پوهيږې او د پاکستان قونسلگري البته ته دغه نفر په قيمت اخيستی يې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته به لدې سره ګرځې د دې هره خبره به منې!**

**بس په افغانستان کې د بادشاهانو په رقم ژوند کوې، که دې د دې کس له خبرو سرغړونه وکړه.**

**نو په هماغه ورځ به ټول افغانستان او خپله ټوله سيمه کې شرميدلی يې.**

**ما سوچ وواهه،**

**هاغه د لسو دقيقو خوند چې ماته زما په خپل کور کې هم پيدا کېده، هماغه د لسو دقيقو خوند زه د ټول عمر لپاره د بې غيرته پنجاب غلام وګرځولم.**

**په سترګو مې ګوتې ايښې وې، ځانته مې سخته غوصه راتلله.**

**بس اوبه له ورخه تيرې وې.**

**زه د ټول عمر لپاره د پنجاب غلام وګرځېدم.**

**دې وخت کې مې موبايل ته فکر شو، جيب کې مې ګوتې ووهلې.**

**نه وو.**

**جمشيد ته مې وويل:**

**زما موبايل چا سره دی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاڼې دار ته يې اشاره وکړه، موبايل مې ترې واخيست.**

**ومې لګوه، د خالدې د ورور څه زنګونه راغلي وو، د خالدې دوه درې مسيجونه مې ولوستل ليکلي يې وو:**

**سلام سبيره چيرته يې؟**

**دلته يو ډول خلک راغلي دي، ما له ځان سره بيايې؟**

**ورختا شوم، نور مسيجونه چې مې لوستل تاڼې دار راته وويل:**

**له ده سره وپيژنه!**

**دی سرفراز خان نوميږي مور ورته شاجي صاحب وايو.**

**ما وويل:**

**سمه ده.**

**مور له دې ځايه راوتلو، شاجي راته کړل.**

**ډرو مت!**

**هم توم سې صرف ايک کام چاهيې.**

**اجا هماري سات.**

**زه يې له ځانه سره يو دفتر ته ننباسلم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلته ډېر خلک د ميټينګ په شکل ناست وو، ماته يې څه په اردو کې وويل:**

**ژباړن راته شروع شو.**

**دوی وايې:**

**لومړی خو ته بايد د افغانستان په ملي بانک باندې دا ومنې، تر څو زموږ له قرضې تېر شي.**

**څومره پيسې چې موږ ورنه نيولي دي، دوی بايد له موږ څخه هغه پيسې ونه غواړي.**

**موږ پوهېږو، که چيرې ته وغواړې نو دا کار کولای شې.**

**ما ورته وويل:**

**نه زه دلته د دې لپاره راغلی يم، چې له تاسې د افغانستان بانک پيسې واخلم.**

**راته کړه يې:**

**اوس راباندې خپل ويډيويې فلم ولې پدې لوی سکرين کې د دې ټول خلکو په مخ کې ګوري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په بیړه مې وویل:**

**سمه ده سمه ده، زه یې منم خو د دې ضمانت به څوک وکړي چې تر دې وروسته به له ما نور څه نه غواړئ؟**

**راته کړه یې:**

**ته اوس غلام شوی یې، که هره خبره دې ونه منله، نو خپل عاقبت درته مخې ته پروت دی.**

**ځانته مې دوه درې سپیړې ورکړې.**

**دوی ته مې وویل:**

**سمه ده، زه به څه لیاره وکړم، ستاسې د دغه ترجمان سره به زه په تماس کې یم.**

**له دوی مې ځان راخلاص کړ، کور ته مې زنګ وواهه.**

**چا نه وچتاوه،**

**بیا مې له ځانه سره فیصله وکړه، لومړی له رخسار نه خپله بدله اخلم بیا کور ته ځم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدې وخت کې مې د خالدې په مسیجونو سترګې ولګیدلې، سبیره خدای ته وګوره کور ته راشه.**

**زه ډیره ویریږم.**

**کور مو چا محاصره کړی دی، ما خو تاته زیری درلوده ما ویل چې په کور کې به دربادنې یو ناڅاپی زیری وکړم.**

**خو ته نه یې، همداسې به یې درته ووایم.**

**زه په نس ځوی لرم.**

**په ډک سړک کې مې چیغې کړې، اوف سخت درد لري.**

**تر دې وروسته یې هیڅ مسیج هم راغلی نه وو، ورختا شوم.**

**اوس کور ته ولاړ شم، که رخسار پسې بس رخسار دلته نږدې وه، همدې پسې ورغلم.**

**هغه پخپل ځای کې نه وه، سوج مې وواهه.**

**بس د پیښور موټر کې کیناستم، موټر پیښور ته راورسولم.**

**له پیښوره تورخم ته راغلم، د تورخم لاره د مشکلاتو له وجې د تګ راتګ لپاره بنده وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړن ته مې مسیج وکړ، راته کړه یې:**

**ورشه زه ورته وایم تر څو پریدې بږدي، ریښتیا هم چې ورغلم چیغې یې وهلې، سبیر په نوم څوک شته؟**

**ما ورته وویل:**

**زه یم.**

**ټول خلک پاته شول او زه خپل وطن ته راواوړیدم.**

**په اول ځل مې ځان پخپله خاوره کې هم  غلام محسوس کړ.**

**دا داسې غلامي وه، چې د قیامت په ورځ هم دا غلامي نه ختمېده.**

**ځکه ما زنا کړې وه او زنا داسې یوه ګنا ده چې د سړي نه پرې ایمان پورته کیږي.**

**تر تولو لومړی یو جماعت ته ولاړم، رب ته مې ډیرې دعاوې وکړې.**

**یا ربه زما دې توبه وي، دا ځل مې لدې مشکلاتو خلاص کړه، قسم دې زما ستا په هماغه پاک ذات وي که مې بیا دغې بې خوندې لارې ته وکتل.**

**یا ربه ما لا خپل مرګ لیدلی ندی او موږ ته د جماعت امام صاحب ویلي وو، چې تر څو چا خپل مرګ لیدلی نه وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر هغې يې هر ډول گنا د توبې په ذريعې سره معاف کيږي.**

**ربه زما ټول گناهونه معاف کړه.**

**د تورخم نه د ننگرهار پر لور روان شوم، تر ټولو لومړی کور ته ولاړم.**

**خالده په کور کې نه وه، زما جامې مينځل شوې وې، هر څه روغ جوړ ايښې وو.**

**وه خدايه دا خالده اوس څه شوه؟**

**اوښي ته مې زنگ وکړ، ښه وو وچت يې کړ.**

**د خالدې پوښتنه مې ترې وکړه، ويل يې:**

**مور مې وايې ديته ووايه چې عاجل زموږ کور راشه.**

**ما خپل موټر واخيست ورغلم، اوښی مې راته شروع شو، راته کړه يې!**

**ته خو ډير بې غيرته انسان يې، دا دې يو ځل نه شو.**

**ستا د لاسه زما خور ته ذهني مشکل پيدا شوی دی، ما ورته وويل:**

**هلکه خپل حد وپيژنه!**

**دا وخت خالده له شانه راغله، خپل ورور ته يې يوه کلکه سپيړه ورکړه.**

**ما ورته وويل: ولې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ويل يې:**

**دې کې خو هيڅ د ميلمه خپل او پردي قدر نشته.**

**سر مې په گوتو کې ونيوه په گونډو کيناستم، لومړی مې د هغې وفاته وخندل بيا مې يوه لويه ساه وايسته شکر مې وکړ.**

**چې خالده روغه ده، بيا مې په خپلې کم عقلۍ او جهالت ښه سم وژړل.**

**خالدې راپورته کړم.**

**راته کړه يې:**

**ولې سبيره څه شوي دي،**

**ما ورته وويل:**

**ته دې بورقه راواخله، ژر ژر کوه چې ځو.**

**هغې بورقه راخيسته ما مې خواخې او اوښي ته وويل:**

**تاسې مه خفه کيږئ، تر دې وروسته به انشاالله هيڅکله هم داسې څه نه کيږي.**

**اوښې مې غاړې ته کړ، يو زرگون افغانۍ مې ورته جيب کې کيښودې او ورته مې وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خفه کیږه مه مړه سړیه!**

**خور دې کله کله ما هم داسې یوه نیمه چکه کش کوي.**

**ویې خندل**

**ویل یې:**

**لالا چې د چکې قیمت زر افغانی وي، دا چې هره ورځ مې یوه یوه وهي.**

**میاشت کې دننه دننه به رانه د پاکستان کروړ پتي جوړ وي،**

**هههههههه**

**دواړو وخندل، خالده راووته!**

**لالا په ځان او په خور مې پام کوه، خالدې ورته وویل:**

**څنګه چل دی، بیا یې لکه چې رشوت درکړ.**

**ههههhe**

**ټولو وخندل،**

**خالده موټر کې کیناسته، کور ته راغللو.**

**په لاره کې مې ورته هیڅ هم ونه ویل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په کور کې مې ورته وویل:**

**ښه ته راته لومړی دا ووایه تا چې مسیج راته کړی وو.**

**چې دلته یو څه خلک راغلي دي ما له ځانه سره بیایې، هغوی څوک وو؟**

**ویل یې:**

**نه پوهیږم، خو شاید زما وهم زیات شوی وي.**

**ډاکټر مې هم مور ته وویل:**

**چې دا یواځې مه پریږدئ، دا یو څه د ویرې مشکل لري.**

**ما ورته وویل:**

**چیرته پیریان دربانديې مین شوي نه وي؟**

**ویل یې : نه**

**داسې خبرې مکوه ته بیا غواړې ما وویروې، ومې خندل!**

**ورته مې وویل:**

**د مینې هغه ډیالوگونه چې ستا حق کېده هغه ما نورو ته وویل:**

**ځکه رب نن ذلیل کړم،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر دې وروسته یې بیرته تاته وایم، شاید رب مې بیرته بیا د پخوا په رقم د نوم او عزت خاوند کړي.**

**خالدې وویل:**

**ولې زه ستا په مطلب پوهه نشوم، ومې ویل:**

**لدې وروسته به ته ناپوهه نه پاته کیږې، ته باید په هر څه پوه شې.**

**هغه مزه چې ما په نورو کې لیدلې وه، هغه باید زه په تا کې پیدا کړم.**

**ویې ویل:**

**زه په تا له اوله پوهېدم چې ته څه کوې او څه نکوې.**

**خو دا چې ته راته د زړه له تله ګران وې، نو ځکه مې تر اوسه خپلې کورنۍ یا هم تاته ویلي ندي.**

**که چیرې تاته ما هغه وخت ستا غلطي در په ګوته کړې وای، شاید تا زه له خپل کوره شړلې وم.**

**لکه څنګه چې د پلار په کور زړه شوم.**

**بس رب ته مې همدا دعا وه، یا ربه ته ورته په خپلو قدرتونو لارښوونه وکړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ومې خندل او ورته مې وويل:**

**د ظالم لورې ته تر اوسه دعا او خيرا نه پيژنې.**

**ستا دې د خيرا په ډول دعا خو زه د ټول پنجاب غلام وگرځولم.**

**ويې ويل:**

**څه مطلب؟**

**خپله ټوله کيسه مې ورته تېره کړه او ورته مې وويل:**

**رخسار نه خو زه خپل غچ ضرور اخلم، خو اوس بايد زه د بانک مشکل حل کړم.**

**دا شپه مې ټوله داسې تېره کړه لکه د واده اوله شپه!**

**د خالدې په اهميت ايله اوس پوه شوم، په سبا سهار وختي وظيفې ته ولاړم.**

**ټول نماينده گان زما ځواب ته په تمه وو، غونډه يې راجوړه کړه.**

**زه هم ورغلم، ټول د پښتنې ځواب ته په تمه وو، ما د بانک عمومي مدير ته کړل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مدير صيب خبره مې ورسره وکړه انشاالله تر يوې مياشتې وروسته به ټولې پيسې زموږ بانک ته راشي.**

**ټولو ومنله، ويل يې سمه ده.**

**دا ورځ ټول په دفتري کارونو تېره شوه، مياشت نوې نوې پوره شوې وه.**

**ځکه د ښوونځيو استاذان او ډيرى نور دولتي کارمندان د معاشونو اخيستلو لپاره بانکونو ته راروان وو.**

**په بانک ډير زيات رش جوړ وو، مسؤل منيب يو هلک هم نيولى وو.**

**چې کميشنکار وو، له خلکو به يې پيسې اخيستلې او ژر ژر به يې ورته کار کاوه.**

**زه هم ورغلم، ورته مې وويل:**

**موبايل ترې واخلئ، موبايل يې ماته راکړ په واټساپ کې ورته شل ديرش نفرو مسيجونه کړي وو.**

**د ظالم بچى غټ کميشنکار وو.**

**مسؤل ته مې وويل:**

**مطلب چې زه نه يم دا کاتې هم په بانک کې کيږي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ها؟**

**ويې ويل:**

**مدير صيب خبره داسې ده، چې داسې يو نيم نفر پيدا کيږي.**

**خو موږ يې انشاالله ښه پوره مخه نيسو.**

**ورته مې وويل:**

**تاسې يې څنګه مخه نيسئ؟**

**زه درته ماشوم ښکارم؟**

**لدې سره دې يو کارمند په حساب کې وران شوی دی.**

**څکه دې رانيولی دی، دا وګوره په واټساپ کې يې مسيجونه پراته دي.**

**هغوی ته مې وويل:**

**تاسې سره به زه سبا ته ګورم، هلک مې له ځان سره په خپل دفتر کې په څوکۍ کيناوه.**

**ورته مې وويل:**

**هلکه دا د نجلۍ نمبر د چا دی؟**

**ويې خندل چوپ شو، ورته مې وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګوره بچی!**

**د دې عشق و عاشقۍ پوښتنه له هغه چا وکړه چې مينه يې کړې وي.**

**په دنيا کې تاته وفاداره صرف ستا هغه بي بي ده، کومه چې تاته په قسمت کې ليکل شوې ده.**

**د چا سره چې دې نکاح شونې نه وي، هغه هيڅکله هم ستا په قسمت کې ليکل شوې نده.**

**مينه د ژوند هغه درد دی، چې ډير خلک يې د دې لپاره تجربه کوي، تر څو خوند ورنه واخلي.**

**خو دا خوند ډير کم وي او بې عزتي به د قيامت په ورځ هم ستا په غاړه کې لويه رازوړنده وي.**

**هلک وويل:**

**دا خوشې خبرې دي، زه به په هر حال کې خپلې مينې ته رسيږم.**

**ما ورته وويل:**

**رب دې وروړسوه.**

**ښه ورځ ولرې، موټر مې چالان کړ کور ته راغلم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خالدې ته مې وویل:**

**د یوې میاشتې لپاره خو بیغمه شو انشاالله!**

**تر هغې وروسته به څه کوو؟**

**خالدې وویل:**

**ماته یوه لیاره معلومه ده، زما یوه خاله ده هغه په نورستان کې له ښاره لیرې اوسیږي.**

**ته بدې هم ډیره پریږدې، د نورستانیانو په رقم جامې به واغوندې.**

**زه به هم د هغوی په رقم ځان جوړ کړم.**

**همالته به خپل ژوند ته ادامه ورکړو.**

**دا مشوره مې خوښه شوه، له ځان سره مې فکر وواهه داسې هوښیاره او نام خدا ښکلې ښځه مې پریښې وه او په پنجابۍ ډمو پسې ګرځېدم.**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرون ورځ د دې ناول ليکوال د ادب له نړۍ څخه د تل عمر لپاره مخه ښه وکړه.**

**هيله ده چې تاسې د دې ناول په نيمايې نشريدلو خفه شوي نه ياست.**

**دې لاندې ويبسايټ کې ټولې لنډې کيسې او ناولونه نشر شوي دي.**

**[www.kesa.blog](http://www.kesa.blog)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**